مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۳/۱۸

# غــزل

نور به يې په لوري موږ کاته پريږدو
موږ که ترې نه ځو ورته خپل زړه پريږدو

ځې له دې بې روحه ښاره کډه شــــو
ستړي ارمانونه ميلمـــــانه پريږدو

شيخه که پردې مو ګناهګار بولـــې
موږ به خپلې ږيرې ترنامه  پريږدو*

مه کوه ګوزار د درو مـــه کوه
نور به دسندرو اوريده پريږدو

راشي د توپک له خولې پيغام داسې
وژنو يې له سره کله مـــره پريږدو

دا وطن خو ښکلی دی جنت دی خو
موږ به يې له لاسه د يوه پريږدو

۲۰ /۱۱ /۱۳۷۸
کابل- خارندوی مینه

*دغزل سالار استاد محمد صديق پسرلي له يوه شعر نه په الهام
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ